# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

*چو کشور نباشد تن من مبــــاد        بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد*
*همه سر به سر تن به کشتن دهیم        از آن به که کشور به دشمن دهیم*

afgazad@gmail.com        www.afgazad.com

| مسائل ایدئولوژیک | Ideological |
|---|---|



درویش وردک

۲۵ جنوری ۲۰۱۷

## دوه شپیتم مجلس(په توحید کی)

### یوولسمه برخه

شیخ عبدالقادر(قدس الله سره العزیز) وړاندی داسی وفرمایل: دخدای دبندگانو ناسته دداراوخوف له مخی، دزمری سره دناستی په شان ده، ځکه که زمری موږ وی نوپه تا کارنلری، ولی که دی ورته مزاحمت وکړ، ممکنه ده چی ودخیری،همداسی صدیقین دی چی دخپل مولا په صحبت کی خوښ دی، اوکه ورته مزاحمت وشی، قطعا په غصه کیږی.

شیخ (رضی الله تعالی عنه) دمتعال خدای دقول په هکله داسی وفرمایل: (اُدْعُوارَبَّکُمْ تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً اِنَّهُ لا يُحِبُّ الْمُفْسِدِينَ)-«خدای په زاریو اوپه پټه وغواړی، هماغه دی مفسدین نه خوښوی. سوره اعراف. آیه ۵۵».

ویی فرمایل: هغه څوک چی غیرله خدایه غوښتنه وکړی اودحاجت لاسونه دخلکو خواته اوږده کړی، تیری کوونکی دی معتدی.

عبدالله بن مسعود به یارانش میگفت: شماروشنی قلب هستید، زیرا هرکه برای رضای خدا به سخنی گوش داد، نوراست، وافزود درغیر اینصورت به نزد من نیائید که کدورت خواهید بود.

عبدالله بن مسعود(رضی الله تعالی عنه) خپلویارانو ته ویل: تاسو دزړونو روښانایی یاست، ځکه هرڅوک چی دخدای درضا لپاره خبروته غوږشو، نوردی! اوپه غیر ددی صورت کی زماخواته مه راځی چی تیاره به اوسی.

(پوښتنه) سوال وشو چی آیا په قال پسی اقداء وشی که په حال پسی؟ شیخ(درودخدابراوباد) وفرمایل: عوام په قال اقتداء کوی اوخواص په حال. ته له کومی ډلی یاست؟ نبض دی ماته وښیه، ترڅو دی دناروغی شدت وموم اوپه درملنه کی یی زیاروباسم.

درسول اکرم(صلی الله علیه وسلم) له عاداتو څخه یو هم دناروغانو لیدنه وه، ولی له بده مرغه دغه کارنن ترک شوی دیو اودا تندرستان دی چی دعیادت وړ گرځی( پدی عبارت کی فکر کول دظاهری معنی ترڅنگ، ذهن اصلی پیام ته متوجه کوی چی اصلی مقصود دی). پس زه هم ستاکوروته له تگ اودیدوډی له خوړو څخه ډډه کوم.

**لویه خدایه دخلکوچیچ(نیش) له مونږه لیری ساته، لویه خدایه دنفس اودهوی دطبع شرله مونږه لیری کړه، زه له دی ژوردریاب څخه په ویره کی یم، یوازی ستا دقدرت لاسونه کولاشی چی څوک په هغی کی په لامبوکړی، اوډارله دی څخه دی چی مبادا عنایت یی شامل دحال نشی.**

(اِنَّمَا یَخْشِی اللهَ مِنْ عَبَادِهِ الْعُلَمآءُ)-«هماغه دبندګانوترمنځ(یواز) دانشمندان دی چی له خدایه ویریږی. سوره فاطر.آیه. ۲۸».

هرکله که په خدای علم حاصل شو، خوف ډیریږی، ځکه چی دهرشی کامل شناخت ددی موجب ګرځی چی په هکله یی ډیرسوچ ووهل شی.

مرګ په خوامخوادرپسی راشی، پس ځان دهغی سره مقابلی ته تیارکړه. ای هغه چی په بی بامه خونه کی اوسیږی، اودزن اوفرزند لپاره دی دژوندانه لازم امکانات اوضروریات ندی چمتوکړی، په فکرکی اوسه، ژمی رارسیدونکی دی( وای چی دآخرت لپاره دی کوم څه ندی زیرمه کړی، دمړینی ژمی راتلونکی دی، ویښ شه).

ستا دریځ د(**ایاک نعبد وایاک نستعین**) قول په هکله څه دی؟ «یوازی ستا پالنه په وحدانیت کی کوم اویوازی له تاياری غواړم». کله دی په عمل کی اخلاص درلود؟ کله دی له خلکو اوریا اونفاق سره پریکړون کړی؟ کوم وخت دی خپل زړه دحق پروړاندی خاشع اوذلیل ګرځولی؟ کوم وخت چی شهوت درباندی غلبه کړی اوتا له خدایه شرم کړی اودهیلو په خوله دی قبضه اچولی؟کله دی دخدای له ویری خپل شهوات کنترول کړی؟ کله چی یوسف علیه السلام له هغی ښځی سره مخ شوی، دخدای ویره یی په زړه کی ځای شوه اوله هغی یی تیښته غوره کړه (**کَذَالِکَ لِنَصْرِفَ عَنْهُ السُّوءَ وَالْفَحْشَاءَ، اِنَّهُ مِنْ عِبَادِنَا الْمُخْلِصِینَ**)-«همداسی مو هغه له بدیولیری وساته،دی زمونږ له مخلصوبندګانوڅخه دی. سوره یوسف.آیه ۲۴».

ای دخدای بندګانو، ای مریدانو، تاسو هم داسی اوسی،دغه دصدیق لاره غوره کړی، له خدایه وغواړی چی توکل درته عنایت کړی، اوله دنیوی اسبابو اوپه نوروتکیی څخه مو وژغوری. هرکله که زړه دخدای دامرپه لاره شی دفرشتی په زړه بدلیږی، هغه څه فرشتی اوری، دی یی هم اوری، هغه چی ملک پوهیږی دی به هم پری پوه شی.

جناب حضرت شیخ عبدالقادرګیلانی(رضی الله تعالی عنه) دموسی علیه السلام په هکله داسی وفرمایل: سِریوباطنی عنایت دی، موسی علیه السلام خپله ماینه ترک کړه، اوویی ویل: دطورلخوا اور وینم، آیا څه یی ولیدل؟ دظاهرسترګواور ولید اودباطن سترګونور، دظاهرسترګو خلق مشاهده کړل اودباطن سترګوحق ولید.( **قَالَ لِاَهْلِهِ امْکُثُونِّی آنَسْتُ نَاراً**)-«ښځی ته یی وویل تمه شه،ما اورلیدلی. سوره طه آیه ۱۰». زړه یی دحق په نورمجذوب شو، له ښځی اواولادسره بیل شو، ملکوتی نداء یی واوریدله، دالهی قدرت ربایش(کښوونه) راڅرګنده شوه، دی یی له ټولو بیل کړ، ږغ یی پورته کړ: ای علمه خدای ته وګوره، ای نفسه ثابته شه، ای زړه اوباطنه ځواب ورکړی، محروم هغه دی چی دامقام یی درک نکړ، اوزړه یی په شوق رانه غی، اوپه هغی یی ایمان نه درلود، که دغسی حالت راپیدانشو، باید تأسف وکړی اودیاس اوحرمان لاسونه په سرووهی.

(**لَعَلِّی آتِیْکُمْ مِنْها بِخَبَرٍ**)-«ښایی تاسوته خبرراوړم. سوره نمل آیه ۷».په خپلو ځایوکی اوسی، تاسوته خبرراوړم، ځکه چی لاره یی ورکه کړی وه، دلاری ظاهری دلایل یی له نظره ورک شولو نوځکه ریښتینی ساتونکی اوراهما دی دلالت کړ.

ای ویده غافله راویښ شه، دحوادثو سیل ستاشاه اوخوانیولی ده، دقیامت ورځ په یاد راوړه چی وایی: داعمالولیک دکوم دی؟ ستاښوونکی اوراهنما اونبی څوک و؟ په هغه ورځ نسبونه، دوستی، ورورۍ، اړیکی ټولی غوڅیږی، هغوی چی

دتقوی اهل وی دخدای اورسول پروړاندی په جګ سر حاضریږی، رسول ګرامی(صلی الله علیه وسلم ) ته به وویل شی: ستاپیروان کومدی؟ وبه فرمایی: (كُلُّ تَقِيٍّ آلُ مُحَمَّدٍ)-«هرپر هیزګاره دمحمّد آل دی».
ساکت اوسه،تالره عقل اوخرد نشته، ته ددجلی په غاړه یی، ولی له تندی مری.دوه ګامه باید واخیستل شی ترڅوحق ته ورسیږی، یوله خلق څخه تیریدل اوبل له نفس سره پریکړون. که درستګاری(ژغورنی) غوښتونکی یی نوباید زما دوینا ګزارونه تحمل کړی، کله می چی حال بدلون مومی، نورتانه وینم، کله چی می درونی احساسات په جوش راشی، ستاصورت نه وینم،ځکه چی زه ستا داصلاح په لټه کی یم، غواړم ستا درونی خبث اوککړتیاوی پاکی کړم، زما موخه ستا دزړه په خونه کی داور اطفاء ده، نیت می ستا دحریم ساتنه ده.
سترګی پرانیزه او وګوره چی څوک دی مخکی ناست دی، ته جنون په سراخیستی یی، اونه پوهیږی چی له لړځند وروسته مرګ درپسی راځی، ښځه اولادونه اوکور به تول درسره مخه ښه وکړی، دقبرله خاورو اومأموره ملائکو سره به مخ شی، پس پوه شه چی ته مسافریی، اوپه دنیا پرته له یوه عاریه وجود بل څه نه یی.
پاک اوسپیڅلی دی خدای چی پرتاسویی منت ایښودی دی. ای غافلانو ولی دآخرت دتوښی اوزاد په ټولولوکی نه یاست.
اوته ای مدبره! ولی په اونی کی یوځل، یاپه میاشت کی یوځل، اویا په کال کی یوځل زماخواته نه راځی؟ ولی نه راځی چی هرڅه پرته له بیی ترلاسه کړی.؟ زه ستا درنځ بارتحمل کوم، اوپه مقابل کی هیڅ رنځ اوتعب په تانه اچوم، خدای مالره کفایت کوی، نوردیرواټنونه وهی اوراځی چی یوه خبره له ماواوری، اوته چی څوګامه نیږدی یی تن پروری درته اجازه نه درکوی چی راشی،. تن لرپه دنیا باندی چاغ کړه، ځکه ډیری کسان ستا په شان په دنیا چاغ شوی، ولی له هغی یی ګټه نده ترلاسه کړی، که په هغی که خیروای نوته به له مونږه نه وی وړاندی شوی.( أَلَآ اِلَى اللهِ تَصِيْرُ الْأُمُورُ)-«ټولی چاری خدای ته راګرځی. سوره شوری آیه ۵۲».هرڅه چی لرواوپه هرڅه کی چی یاستو، دخدای دی.
کله چی بزرګوارشیخ(دخدای رحمتونه دی پری وی) له منبره راکوزشو، یوه له شاګردانوورته وویل: (په پند اوموعظه کی دی مبالغه وکړه، اووینا دی تنده اوخشنه وه) ځواب یی ورکړ: زمادګفتارپروړاندی زما کردارقرارلری، یعنی زما قول پرته له عمله ندی، هغه کس داسی ترتاثیرلاندی راغی چی وروسته به له ټولو مخکی دوعظ مجلس ته حاضریده،اوپه کامله تواضع اوسرټیټی کی به کښیناسته.
**لویه خدایه، صبراوعقوه زمونږبهره وګرځوه، لویه خدایه،زمونږیاری وکړه چی پرته له بل کس ته دتوقع لاسونه وړاندی نکړو. آمین!**
(مَنْ تَضَعْضَعَ لِغَنِّيٍ لِأَجْلِ مَافِي يَدَيْهِ ذَهَبَ ثُلُثَا دِيْنَهِ)-«هرچاچی دشتمنی له مخی کوم بډای ته سرټیټ کړ، دوه پردریه دخپل دین یی له لاسه ورکړی ده».له نورو دغوښت عادت باید ترک شی اویوازی خدای ته متوسل شی.
یوسړی می ولید چی له خلکویی مرسته غوښته، اوپه هماغه وخت کی یی یوه جبه په پنځه ویشت دیناره وپلورله، ورپسی روان شوم،که ګورم یوه سړی ته ورسید چی حلیم خوری، په زاریو اوالحاح یی یوه ګوله تری واخیسته، په حیرانی کی شوم، اوچی له ده می وپوښتل چی جبه دی په هغه مبلغ وپلورله ، ځواب یی ورکړ: ستا په خاطرله خپل هنرڅخه لاس په سریم؟(پس هغوی چی دطبع خست لری، دطمع سترګی یی هیڅکله نه مړیږی).
څوک چی دولایت پای ته رسیږی، دقطبیت مقام ته پورته کیږی، اوپه دی حال کی دی چی دخلکو دبارمتحمل کیږی، اومتعال خدای هم قوی ایمان چی ددی درانده باردحمل توان ولری ورته عطا فرمایی. مقاماتوته رسیدنه دظاهرپه سینګارنه ترلاسه کیږی، باید هغه ځای ته ورسیږی چی پرته له خدایه بل څښتن اوپالونکی ونه پیژنی،دواحد لوری اوواحد محبوب درلودونکی شی. هرکله که دحق حب ستا په زړه کی خیمه ووهله،هغه وخت به مجذوب شی، اوباطن به دقرب ته ورسیږی. هغه زمان لقاءالله ته رسیږی چی دخلکو له دیدار اوپه هغوی له تکیی لیری شی، پیغمبراکرم(صلی

الله علیه وسلم) فرمایلی: (مَنْ اِنْقَطَعَ اِ لَی اللهِ عَزَّوَجَلَّ کَفَاهُ مُؤْ نَتَهُ، وَمَنْ اِنْقَطَعَ اِلَی الدُّنْیَا وَکَلَهُ اللهُ اِلَیْهَا»--«هرچاچی خدای ته مخ کړ،خدای به دده رزق او روزی کفایت کړی، اوهرڅوک چی پردنیا متکی و،خدای هم هغه دنیا ته خوشی کوی».

ترک عادت وکړی، اوپوه اوسی ترڅوچی له خلکو څخه بیل نشی اوخدای ته مخ نکړی، هغه څه ته چی دخدای سره دی، نه رسیږی، متعال خدای په قدسی حدیث کی فرمایلی: (مَنْ عَمَلَ عَمَلاً یُرِیْدُ بِهِ غَیْرِی،فَأنَا أغْنَی الشَّرِیکَینِ هُوَ لِشَرِیکِی دُونِی)-«هرچاچی عمل ترسره کړ اوپرته له مونږه دغیرولپاره،پوه دی شی چی زه له شریکه بی نیازه یم، اوهغی عمل ته هم هیڅ اړتیا نلرم اوهغه عمل هم پرته له مادغیرولپاره دی». خبراوسه چی اخلاص دمومن ځمکه ده، اواعمال یی دیوالونه، ددیوالونو دړنګیدو امکان شته، ولی ځمکه همداسی ثابته پاته کیږی. پوه شه چی دهرعمل بنسټ اواساس تقوی ده. که دی وویل چی خدای ته متوسل شوم، ولی هغه زما ژوند تأمین نکړ، ځواب دادی: ایراد په تا کی دی،نه په رسول اوویناکی یی، ځکه رسول اکرم(صلی الله علیه وسلم) –( وَمَا یَنْطق عن الهوی)-« دنفس دهوا اودځان له لوری څه نه وایی سوره نجم. آیه. ۳»..

آیا ستاسوسره دخدای له لوری کوم خبرشته؟ نه په خدای، تاسو ددنیا اودهغی دښکلا عاشقان یاست، که صدق اوراستی لری، په طلب کی حریص مه اوسی، نفس دقضا اوقدرترمنځ خوشی کړی، ځکه دحق کمترین دیدار ددنیا اوآخرت له سینګارونو ښه دی.هرکله که ستا اونفس ترمنځ اړیکه پری شوه، دهغی دادخواهی(زاری) به واوری، چی لاسونه ستا په لمن کی اچوی.

ای چی دنفسانی غوښتنواوشیطان اودزړه دتمنا ترمنځ توپیرنه پیژنی، څرنګه کولای شی چی دنفس هوی دمعاصیوپه زلاتومقهورکړی؟! دزړه ډاډ په صالحه اعمالواوصدق اواخلاص لاس ته راځی.

هغه ته چی په داروځړول شو(منصورحلاج- رحمة الله علیه وأرفع درجاته وتقبل مجاهداته وشهادته ونورقبره وارزقه وارزقنا لقائک ولقاء نبیّک.آمین) وویل شول ، ماته وصیت وکړه؟ وویل:( **دخپل نفس مواظب اوسه، که دی ونشوای کولای چی په هغی سپورشی، هغه به په تاسپورشی**). که غواړی چی دبزرګانو هم لوښی شی، باید دخرابات اوبیابانونو لاره ونیسی، له دی مستی دهوښیاری حال ته راشی، منتهی باید درازونو له افشاء(څرګندولو) څخه ډډه وکړه ترڅو په هلاکت کی پری نه وزی. که غواړی چی حق ته ورسیږی، لومړی باید ددنیا په آس سپورشی، یعنی دنیا ځانته رامه او مغلوبه کړی، اودشریعت دټولو احکاموپه ترسره کولو سره، په خلوت کی کښینی، دحکم دباب څخه له تیریدو وروسته به دعلم باب ته ورسیږی، دحکم باب هماغه دامراونهی اجراءکول دی، اوڅرنګه چی پدی باب کی بلاوی اوآفات ډیردی، باید دعلم له باب سره هم آشنا اوسی، ترڅوپه هغی کی له ښوئیدو مخنیوی وشی. علم اوحکم دواړه دصدیقینو اومحبوبینو ځانګړتیاوی دی.

پوه شه چی ستا نیردی والی خلکو ته ،تا له خدایه لیری کوی، پس غوره ده چی آخرت ته مخ کړی اوپه عباداتواوطاعاتوبوخت شی، ترڅووژغورل شی، اودنیوی بهری دی هم په برخه شی، پداسی حال کی چی له هغوی اکراه هم لری، ولی مأموریی چی د شرعی رخصت  دقانوڅخه په کټه اخیستنه له هغی کاروالخلی ترڅوچی اندک رخصت له طبعت نه زایل شی اوټول افعال دی په عزیمت واوړی، اوهمداچی دی په عزیمت صبروکړ ، دحق حب دی په زړه کی ځای نیسی، اودحب دثبوت وروسته دولایت مقام ته رسیږی.

که دهوښیارانو له جملی څخه وی ځان داوراهل وګڼه ، ترڅو دغه روش تا صالحه اعمالوته رهبری کړی اوکه دی جنت داهل څخه وی،دهغی شکرانه به دی اداءکړی وی.

هرکله که له کوره بهروځی، داسی وګڼه چی جګړی ته ځی اوبیا هیڅکله کورته نه راګرځی، پوه شه چی تا دکسب پواسطه آزمایښت کوی، او ایمان ولره چی خدای قادردی چی روزی په آسانه اوبی رنځه لاس ته درولی.

مومن کله دغره اوکله دواښه په څیردی، دآفاتواوبلایاوپروړاندی دغره پشان ثابت اوپایداره دیو اودخدای پروړاندی دسپک واښه په څیردی چی دقدرت نسیم یی له ځانه سره وړی.

(ای قومه) دنبوت اورسالت زمان تیرشوی دی، ولی دولایت زمان باقی دی. دبزرګانو سره ناسته دځان تیریدنی نیازمنده ده، باید دړانده پشان وی چی څه نه وینی، دتړی پشان چی داوبوپه غاړه ناست اونه څکی. اویا دبی حرکته مړی پشان.

وای پرهغوی چی دقهرحجاب یی په زړونو کش شوی دی! ته نه خپله نیک عمل ترسره کوی اونه بل دخیرپه کارکی مرسته کوی، ته سرترپایه شریی،څکه ددنیا مهرپه زړه کی لری اوآخرت دی خوشی کړی،ظاهرپرته له باطنه، ستا دغه ولایت ګټه نلری، شتمنی دی بی فایدی ده، پوه شه چی ډیرژربه مړشی، اوترمرګ وروسته به په ذلت واوړی.( مَنْ كَانَ يُرِيْدف الْعِزَّةَ فَلِلّهِ الْعِزَّهُ جَمِيْعاً)-«هرڅوک چی دعزت اوبزرګی غوښتونکی دی، پس(پوه دی شی) چی بزرګواری ټوله له خدای سره ده. سوره نساء آیه ۱۳۹».

هرچاچی خدای وپیژانده،له شهواتو اومزوسره پریکړون کویو دشریعت دحکم په اساس له خپل مفروض نصیب څخه ګټه پورته کوی، مثل دی چی وایی: (أِنَّکَ الْيَوْمَ لَدَيْنَا مَكِيْنُ اَمِينُ)-« نن ته زمونږپروړاندی دمکانت خاوند اوامین یی. سوره یوسف. آیه ۵۴».

«ربنا آتنا فی الدنیا حسنة وفی لاخرة حسنة وقنا عذاب النار»آمین.

نوربیا.....